
NHS
Test and Trace

**مخکې له دې چې تاسو ازموینه پیل کړئ دا بشپړ لارښود په غور ولولئ.**
**دا ازموینه ممکن د هغه څخه توپیر ولري چې تاسو دمخه کارولې وي.**

# د SureScreen SARS-CoV-2 اینټي جین ګړندۍ ازموینې کېسټ (د پزې سواب) (طلایي) په اړه ستاسو ګام په ګام لارښود




د پېژندګلوۍ دې کتابچې ته یوازې د SureScreen SARS-CoV-2 اینټي جین ګړندۍ ازموینې کېسټ (د پزې سواب) (طلایي) ویل کیږي، د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7.
په دې لارښود کې دا تشریح شوي چې د COVID-19 لپاره به خپله، د خپل ماشوم یا کوم بل شخص ازموینه څنګه کوئ، او خپلې پایلې به څنګه راپور کوئ.

همدغه راز، د ژبې بڼې او د ویډیو نمونې دلته موجودې دي:
gov.uk/covid19-self-test-help

**د خپلې ازموینې ټولې پایلې NHS ته راپور کړئ**

# تاسو څه کولو ته اړتیا لرئ

## ستاسو ګام په ګام لاربنود




دا لاربښوونې وګورئ او په سم ترتیب دا ګامونه تطبیق کړئ. هره ازموینه د چمتووالي لپاره شاوخوا 15 دقیقې وخت اخلي او پایلې په 10 دقیقو کې چمتو کیږي.


| | | |
|---|---|---|
| 1 | د خپلې ازموینې ساحه چمتو کړئ او د خپلې ازموینې د کیټ محتویات وګورئ | پاڼه 6 |
| 2 | خپله ازموینه تنظیم کړئ | پاڼه 8 |
| 3 | د خپل سواب نمونه واخلئ | پاڼه 10 |
| 4 | د سواب نمونه پروسس کړئ | پاڼه 12 |
| 5 | خپله پایله ولولئ | پاڼه 14 |
| 6 | خپله پایله راپور کړئ | پاڼه 15 |
| 7 | ستاسو پایلې څه معنی لري | پاڼه 16 |
| 8 | د ازموینې اجرا | پاڼه 17 |
| 9 | په خوندي توګه خپله ازموینه تنظیم کړئ | پاڼه 17 |


## په 3 کې شاوخوا 1 کس چې COVID-19 لري نه پوهیږي چې دوی په دې ناروغۍ اخته دي.

# د ازموينې د ترسره کولو په اړه مشوره

## د ذخيره کولو او اداره کولو لارښوونه

- په کڅوړه کې يې د خونې په تودوخه (2-30 سېنټي ګرېډه) کې کېږدئ. کنګل کوئ يې مه.
- دا کيټ بايد د خونې په تودوخه (له 15 سېنټي ګرېډه څخه تر 30 سېنټي ګرېډه پورې) استعمال کړل شي. که کيټ په يخ ځای کې کېښودل شوی وي (له 15 سېنټي ګرېډه څخه کم)، نو د استعمالولو مخکې يې د خونې په عادي تودوخه کې تر 20 دقيقو پورې پرېږدئ.
- د هر شخص لپاره د ازموينې د جلا کيټ څخه استفاده کوئ. تاسو د ازموينې په دې کيټ کې موجود کوم شی يوازې يو ځل کارولی شئ. دغه توکي بيا مه استعمالوئ. تاسو بايد د هر شخص پايله راپور کړئ.
- که تاسو په خپلو لاسو يا نظر کې څه ستونزې لرئ، نو بايد په سواب کولو او د ازموينې په پروسه کې د بل کوم شخص مرستې ته اړتيا ولرئ.
- که تاسو پزې ته څه شی اچولی وي، د ازموينې مخکې دغه شی لرې کړئ.
- په وينې ککړې شوي نمونې مه استعمالوئ. که په تير شوي 24 ساعتو کې ستاسو د پزې څخه وينه تللې وي، نو د ازموينې کولو نه مخکې بايد تر 24 ساعتو پورې انتظار وکړئ.
- کله چې سواب اداره کوئ، نو د سواب څوکه مه لمس کوئ.
- د ازموينې کيټ او کوم ځای چې نمونه ورکول کيږي، هلته د پايلو کړکی مه لمس کوئ.

## خبرداری

- د ټاکلي وخت تيريدو وروسته يې مه استعمالوئ. لطفاً په بکس ټاکل شوي نيټه تطبيقوئ.
- دا کېسټ بايد د استعمالولو پورې په بنده کڅوړه کې وي.
- د ازموينې دا کيټونه يوازې د انساني استعمال لپاره جوړ کړل شوې دي.
- د ازموينې نه 15 دقيقې مخکې د پزې سپرې مه استعمالوئ.
- دا محصول د طبيعي ربړ لاټيکس څخه نه دی جوړ شوی، که څه هم په محصول کې د طبيعي ربړ لاټيکس شتون يا نښې لکه څنګه چې د پای کاروونکي ته سپارل کيږي په بشپړ ډول خارج کيدی نه شي.

**دا لارښوونې په ځير سره تطبيقوئ، دا ازموينه ښايي له هغه ازموينو څخه مختلف وي چې تاسې مخکې کړې وي.**

د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7

# د دې ازموينې په اړه

## ولې تاسو بايد پخپله د ځان ازموينه وکړئ

د COVID-19 د ځان ازموينه د پزې لپاره د سواب ازموينه وي. دا ازموينه هغه کسان کولی شي چې علايم نه لري، لاکن، د دې کټلو لپاره تاسو بايد ملي لارښووني تعقيبوئ چې کوم ډول ازموينه ستاسو لپاره سمه ده.

### که د COVID-19 لپاره ستاسو ازموينه مثبته راشي، نو تاسو بايد:

- د دې ناروغی د خپريدو په مخنيوي کې مرسته وکړئ، تاسو او ستاسو کورنی بايد د حکومت اوسنی لارښووني تقيبوئ: [nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/](nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/)
- هغه خلکو او ځايونو ته خبر ورکړئ چې تاسو ورسره نږدې اړيکه لرلې وي، او تاسو په تير شوي 48 ساعتو کې ورته تللي ياست، مخکې له دې چې ستاسو علايم پيل شي، يا له هغه ورځې راهيسې چې د ازموينې پايله مثبت څرګنده شوې، که څه علايم موجود نه وي، چې ممکن د COVID-19 ناروغی لپاره ازموينه وکړئ. تل محلي او ملي لارښووني تعقيبوئ.

#### که د COVID-19 لپاره ستاسو ازموينه منفي راشي

دا احتمال لري چې تاسو د آزموينې د ترسره کولو پر مهال ساري ناروغي نه لرله. که څه هم، د ازموينې منفي پايله دا تضمين نه وړاندي کوي چې تاسو کورونا ويروس نه لرئ. تاسو بايد په دوام سره حکومتي لارښووني تعقيبوئ.

**مشوره**

**که تاسو انديښمن ياست، نو د مرستې په ترلاسه کولو کې ځنډ مه کوئ. په خپل شعور باور وکړئ.**

که تاسو د COVID-19 علايم لرئ يا د COVID-19 په ناروغی اخته يئ، لطفاً د NHS لارښوونه تعقيبوئ: [nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/](nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/)


که تاسو د COVID-19 علايم لرئ او ستاسو وضعيت خرابيږي، يا تاسو له اوو ورځو وروسته ښه نه ياست، نو د NHS 111 آنلاين کورونا ويروس خدمت وکاروئ [111.nhs.uk](111.nhs.uk)

که تاسو انټرنيټ ته لاسرسی نه لرئ، نوته زنګ ووهئ **NHS 111**.

د طبي بېړني وضعيت لپاره **999** ته زنګ ووهئ.

تاسو په ماشومانو کې د COVID-19 د علايمو په اړه نوره مشوره دلته ترلاسه کولی شئ: [nhs.uk/conditions/coronavirus-COVID-19/symptoms/coronavirus-in-children/](nhs.uk/conditions/coronavirus-COVID-19/symptoms/coronavirus-in-children/)

## دا ازموینه د چا لپاره مناسبه ده




**هغه لویان چې عمر يې له 18 کالو څخه زيات وي**

ځان ازموينه او راپور، د مرستې سره که اړتیا وي.



**هغه ځوانان چې عمرونه یې 12-17 کاله وي**

د ځان ازموينه او د لویانو د څارنې سره راپور ورکول. بالغ کسان ممکن د اړتیا په صورت کې ازموينه ترسره کړي.



**له 12 کالو څخه کم عمر ماشومان**

یو بالغ کس باید له 12 کالو څخه د کم عمر ماشومانو ازموينه وکړي. که د ماشوم په ازموينه کولو کې تاسو ناکراري احساسوئ، نو دا ازموينه مه کوئ. که ماشوم زياته ناکراري یا درد احساسوي، نو ازموينې ته دوام مه ورکوئ.

## څو ځله باید ازموینه وکړل شي

دا چې تاسو څو ځله باید ازموينه وکړئ ممکن ستاسو د حالاتو او اوسني ملي یا ځایي لاربنودونو پورې اړه ولري.

## چیرته اضافي ملاتړ ترلاسه کړئ

د ځان د ازموينې په اړه نور معلومات دلته ترلاسه کړئ: gov.uk/covid19-self-test-help

د لارښوونې دې کتابچې ته یوازې SARS-CoV-2 انټي جین ګړندی ازموینه کېسټ (د پزې سواب) (طلايي)، ویل کیري، د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7.

# 1. د خپلې ازموينې ساحه مو چمتو کړئ

**مهم**




دا کيټ بايد د خونې په تودوخه (له 15 سېنټي ګرېډه څخه تر 30 سېنټي ګرېډه پورې) استعمال کړل شي. که کيټ په يخ ځای کې کېښودل شوی وي (له 15 سېنټي ګرېډه څخه کم)، نو د استعمالولو مخکې يې د خونې په عادي تودوخه کې تر 20 دقيقو پورې پرېږدئ.

د ازموينې نه 15 دقيقې مخکې د پزې سپرې مه استعمالوئ




**15**
**دقيقې**

تاسو به اړتيا لرئ: وخت ټاکونکي ته (لکه ګړی يا ساعت)، ټشوز، د لاسو پاکوونکی يا صابون او ګرمې اوبه.

---

**1** د هداياتو دا لاربښود په غور سره ولولئ.



---

**2** د ازموينې له پيل څخه مخکې سمدستي يوه هواره سطحه پاکه، صفا او وچه کړئ.



---


**3** د 20 ثانيو پورې په ښه توګه خپل لاسونه په ګرمو اوبو او صابون يا لاس پاکوونکي سره ومينځئ.






# د خپل کیټ توکي وګورئ

4 د ازمويني په خپل بکس کې تاسو باید لاندې شيان ولرئ:




بهرنی بکس د تیوب نیوونکي سره




د ازمويني کېسټي په بنده کڅوړه کې




د مايعي کڅوړې
(د استخراج بفر بوتلګې)




د استخراج تیوبونه



د استعمال لپاره
لارښووني (دا کتابچه)



د پلاستيکي فضله
موادو بستې



سوابونه

**مشوره**

**که څه شی زیانمن، مات یا ورک شوی وي نو څه به کوئ**


که کوم شی زیانمن شوی، مات شوی یا بې درکه شوی وي، لطفاً د ازمويني کیټ مه استعمالوئ. تاسو کولی شئ د پیرودونکي د تماس مرکز ته په زنګ وهلو سره خپل نظر ورکړئ. تلیفونونه هره ورځ خلاص وي، د سهار له 7 بجو څخه تر ماخوستن 11 بجو پورې.

زنګ ووهئ: **119** (له وړیا ګرځنده تلیفون او لیني تلفون څخه وړیا).
موږ په 200 ژبو او همدارنګه د بریتانیې په اشاروي ژبه ملاتړ وړاندې کوو.

که د کومې آلې څخه زیانمن شئ، دلته راپور ورکړئ:
**[coronavirus-yellowcard.mhra.gov.uk](coronavirus-yellowcard.mhra.gov.uk)**

د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7


# 2. خپله ازموینه تنظیم کړئ




**5** د ازموینې کېسټ د بندې کڅوړې څخه راوباسئ او په پاکه هموار سطحه يې کيږدئ.

**خبرداری**

کله چې دا خلاص کړئ، یوازې په 1 ساعت کې دننه یې استعمالوئ، کنې نو ازموینه به خرابه شي. د کڅوړې کېسټ او هغه مواد لرې کړئ چې له 1 ساعت څخه د زيات وخت لپاره د بندې کڅوړې څخه بهر و.



**6** د استخراج ټيوب د استخراج د ټیوب په نیوونکي (د بکس په سر په چاپیره سورئ شوي ساحه) کې پر ځای کړئ څو مایع تویه نه شي.




**7** په احتیاط سره د مایعي کڅوړه په تاوهلو سره خلاصه کړئ. د خپل مخ سره يې لرې خلاصوئ او احتیاط کوئ چې مایع تویه نه شي.

**خبرداری**

د استخراج په بوتلګي کې داسې مواد شامل وي چې که د مخ يا پوستکي سره لمس شي نو د خارښت لامل کیږي. که دغه محلول په پوستکي یا سترګه ولګي، په ډیرو اوبو يې ومینځئ. که پوستکی مو خارښت کوي، لطفاً طبي پاملرنه ترلاسه کړئ.




**8** د استخراج ټیوب خلاص کړئ او په کراره له کڅوړې څخه ټوله مایع ټیوب ته واچوئ.

پام کوئ او د خالي مایع کڅوړه د فضله موادو په پلاستیکي بسته کې واچوئ.

**9** په نرمۍ سره په ټشو کې خپله پزه سونډ وهئ او دغه ټشو بند ډبې ته واچوئ.

که تاسو د بل کوم شخص سره مرسته کوئ یا د ماشوم ازموینه کوئ، مرسته ورسره وکړئ چې خپله پزه سونډ وهي او دغه ټشو بند ډبې ته واچوي.



**10** د 20 ثانیو پورې په ښه توګه خپل لاسونه په ګرمو اوبو او سابون یا لاس پاکوونکي سره ومینځئ.


که تاسو د بل کوم شخص سره مرسته کوئ یا د ماشوم ازموینه کوئ، د هغوی سره په لاسونو مینځلو کې مرسته وکړئ.





**11** خپلې مخې ته په بنده کڅوړه کې سواب ومومئ.
نرمه ټوکري څوکه معلومه کړئ.

**مهم**

د سواب نرمه ټوکري څوکه مه لمس کوئ. که د سواب نرمه ټوکري څوکه لمس شوې وي، دغه سواب ضایع کړئ.




**12** د بلې څوکې نه په نرمۍ سره د سواب کڅوړه خلاصه کړئ، یوازې هغه وخت کله چې د استعمال لپاره چمتو شوی.




د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7


# 3. د خپل سواب نمونه واخلئ

**که تاسو د بل کوم شخص ازموینه کوئ، لطفاً په 11 مه پاڼه لاربښوونو ته مراجعه وکړئ.**

**مهم**


دا ازموینه باید یوازې د پزې د نمونې په کارولو سره وکړل شي.

**13** په یوه سپږمه کې د سواب توکري څوکه دننه کړئ (شاوخوا تر 1.5 سېنتي ميتره پورې پخپله پزه کې).





**14** په نرمۍ سره په دايروي شکل کې سواب په خپله سپږمه کې دننه چاپېره **5 ځله** لږ تر لږه تر **5 ثانيو** پورې ومږئ.

په آرام سره يې لرې کړئ. فشار کولو ته اړتيا نشته او تاسو بايد د زياته دننه کولو لپاره دننه فشار ورنه کړئ. سواب د خپل کاغذ په کڅوړه کې بيا مه ږدئ.




**15** په ورته سواب استعمالولو سره، د سواب توکري څوکه په بله سپږمه کې دننه کړئ (چې ستاسو تر پزې پورې شاوخوا تر 1.5 سېنتي ميتره پورې وي).

په نرمۍ سره په دايروي شکل کې سواب په خپله سپږمه کې دننه چاپېره **5 ځله** لږ تر لږه تر **5 ثانيو** پورې ومږئ.




# په بل چا باندې ازموینه ترسره کول

**مشوره**

له 12 کالو څخه د کم عمر ماشومانو ازموینه باید بل لوی شخص وکړي. د ماشوم د چمتووالي او ازموینې لپاره لاندې لارښووني تعقیبوئ. تاسو د نمونې ویډیو دلته کتلی شئ
gov.uk/covid19-self-test-help


13

که تاسو د ماشوم ازموینه کوئ، هغوی ته د ا زموینې کیټ وښایئ او دا ورته ووایئ چې تاسو څه کوئ. که ممکن وي، هغوی د چا په غیږ کې کینوئ یا چا ته ووایئ چې د لاس نه یې ونیسي.




14


د هغوی په سپږمه کې د سواب توکري څوکه (تر 1.5 سېنتي میتره) پورې دننه کړئ، یا تر هغې چې مقاومت احساس کړي. په نرمۍ سره په دایروي شکل کې سواب د هغوی په سپږمه کې دننه چاپېره **5 څله** لږ تر لږه تر **5 ثانیو** پورې ومږئ. په آرام سره یې لرې کړئ. فشار کولو ته اړتیا نشته او تاسو باید د هغوی په سپږمو کې د زیاته دننه کولو لپاره دننه فشار ورنه کړئ. سواب د خپل کاغذ په کڅوړه کې بیا مه ږدئ.




15

په ورته سواب استعمالولو سره، د سواب توکري څوکه د هغوی په بله سپږمه کې دننه کړئ (1.5 سېنتي میتره پورې) یا څو تاسو مقاومت احساس کړئ.

په نرمۍ سره په دایروي شکل کې سواب د هغوی په سپږمه کې دننه چاپېره **5 څله** لږ تر لږه تر **5 ثانیو** پورې ومږئ.




د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7

# 4. د سواب نمونه پروسس کړئ

**لارښوونه**

د ښه اجرا لپاره، څومره چې ژر ممکن وي، د نمونې ترلاسه کولو وروسته د سواب ازموینه وکړئ.


---

16

د استخراج ټیوب راواخلئ او د سواب توکري څوکه د استخراج په ټیوب کې کیږدئ، داسې چې په مایع کې دننه وي.

توکري څوکې ته د ټیوب په دننۍ برخه کې څور ورکړئ داسې چې د ټیوب ویخ پخپلې غتې ګوتې یا ګوتو وځوروئ.

کله چې څور ورکوئ، تر 10 ثانیو پورې دغه سواب تاوهئ.




---

17

لږ شان د پزې سواب پورته کړئ، بیا په "ماتیدونکي" پوزسیون کې دغه سواب مات کړئ. د سواب څوکه د استخراج په ټیوب کې پریږدئ.


د سواب لاستی د فضله موادو په پلاستیکي کڅوړه کې واچوئ.




---

18


د استخراج په ټیوب لپاسه د ډرافر سر کلک کړئ.



19

دا ډاډه کوئ چې د ازمويني کېسټ په پاکه او هموار
سطحه پروت دی.

د ازمويني پرمهال کېسټ ته حرکت مه ورکوئ.




20

په نرمۍ سره د استخراج په ټيوب څور وکړئ چې له
مايع څخه 3 څاڅکي په ښه توګه (S) دازمويني په پټۍ
واچوئ.

ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو مايع اچولې ده، نه د هوا
حباب.

د استخراج ټيوب د فضله موادو په پلاستيکي کڅوړه کې
کېږدئ.





21

وخت ټاکونکی چالان کړئ او د پايلې لوستلو مخکې تر
10 دقيقو پورې انتظار وکړئ.

کله چې ازموينه روانه وي، دې ته حرکت مه ورکوئ.
10 دقيقې وروسته پايله ترلاسه کړئ. د 20 دقيقو
وروسته ادا مه لولئ.

مخکې له دې چې خپله ازموينه ولولئ، د پرمختګ تر
10 بشپړو دقيقو پورې باید انتظار وکړئ.






د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7

# 5. خپله پایله ولولئ

مهم





د پایلې لوستلو لپاره د 10 دقیقو انتظار وکړئ.



ازموینه داسې مه پرېږدئ چې له **20 دقیقو** سره زیات وخت روانه وي. په دې سره به ازموینه خرابه شي.

## مثبته پایله





دوه کرښې ښکاره کیږي. یوه رنګه کرښه باید د (C) سیمې د کنټرول په کرښه کې وي، او بله رنګه کرښه باید د (T) سیمې د آزموینې په کرښه کې وي.

**دوه کرښې، یوه د C سره نږدې او بله T ته نږدې، حتی خړې کرښې، څرګندوي چې ازموینه مثبته ده.**


مهم

که ستاسو ازموینه مثبت وي، باید ځان جلا کړئ، ستاسو کورنۍ باید د ځان د جلا کولو په اړه حکومتي لارښوونې تعقیبوي:
[nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/](nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/)




## منفي پایله

یوه رنګه کرښه د کنټرول کرښې په (C) سیمه کې ښکاره کیږي. د ازموینې د کرښې سیمه (T) کې هیڅ کرښه نه ښکاره کیږي.





## باطل پایله

د کنټرول کرښه (C) نه ښکاره کیږي.


# 6. خپله پایله راپور کړئ

## تاسو باید NHS ته خپل مثبت، منفي یا خرابې شوې پایلې راپور کړئ

د ټولو ازموینو پایلو ثبت کول له ساینس پوهانو سره د نوي ویروس د خپریدو په موندلو کې مرسته کوي او وړاندیز کوي چې څنګه غبرګون وښیئ.




که خلک یوازې مثبته پایله راپور کړي، د قضیې کچه د دوی په پرتله لوړه ښکاري. نو حتی که ستاسو پایله منفي یا باطله وي، تاسو به ډاډ تر لاسه کړئ چې د NHS معلومات دقیق پاتې شي. تاسو د خپلې پایلې د راپور ورکولو لپاره د QR کوډ، یا د هغې لاندې د ID شمېرې ته اړتیا لرئ.



آنلاین (ګړندی) راپور ورکړئ.

که تاسو په انګلستان، وېلز یا شمالي آیرلینډ کې ژوند کوئ، نو لاندې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ: [gov.uk/report-covid19-result](https://gov.uk/report-covid19-result)

که تاسو په سکاټلینډ کې ژوند کوئ، نو لاندې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ: [covidtest.scot](https://covidtest.scot)



یا د تلیفون له لارې راپور ورکړئ.

که تاسو خپله پایله آنلاین نه شئ راپور کولی، **119** ته زنګ ووهئ (د ګرځنده او مځکنې تلیفونونو څخه وړیا).

اړیکې هره ورځ خلاصې وي. د سهار له 7 بجو څخه تر ماخوستن 11 بجو پورې.

د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7

# 7. ستاسو پایلې څه معنی لري

## کله چې تاسو خپله پایله راپور کوئ، تاسو یوازې خپله ازموینه بشپړه کړې

### مثبته پایله

که تاسو مثبت پایله ترلاسه کړئ، نو دا امکان شتون لري چې تاسو اوسمهال په COVID-19 ناروغی اخته یئ او نورو ته د ناروغی د انتقالولو خطر لرئ. تاسو باید ځان جلا کړئ. کله چې تاسو خپله پایله راپور کوئ، تاسو ته به د راتلونکي اقداماتو په اړه نور معلومات درکړل شي.

**خبرداری**

تاسو او هر هغه کس چې له تاسو سره اوسیږي، باید اوسني ملي او محلي لارښوونه تعقیبوي.

دا دلته موندل کیدی شي:

[nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/](nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/)

### منفي پایله

که تاسو منفي پایله ترلاسه کړئ، نو دا امکان شتون لري چې د ازموینې کولو پرمهال تاسو دا ناروغي نه لرله. اما، د ازموینې منفي پایله دا **تضمین نه وړاندې کوي چې تاسو COVID-19 نه لرئ.**

که ستاسو د آزموینې پایله منفي وي، تاسو باید د ملي او ځایي مقرراتو او لارښودونو تعقیب ته دوام ورکړئ، چې په دې کې له اړتیا سره سم په منظمه توګه لاس مینځل، ټولنیز واټن ساتل او د مخ ماسکونه اچول شامل دي.

که ستاسو علایم څرګند شي، نو باید ځان جلا کړئ او اوسنی تجویز شوي ازموینه په دې ادرس وکړئ: [gov.uk/get-coronavirus-test](gov.uk/get-coronavirus-test) یا په 119 د مشتري د اړیکې مرکز ته په زنګ وهلو سره. تلیفونونه هره ورځ خلاص وي، د سهار له 7 بجو څخه تر ماخوستن 11 بجو پورې.

تاسو او ستاسو کورنی باید ملي لارښوونې تعقیبوي.

## باطل پایله

که تاسو باطل پایله ترلاسه کړئ، دا په دې معنی چې ازموینه په سمه توګه نه ده شوې او دا ویل ممکن نه دي چې د ازموینې کولو پرمهال تاسو دا وایرس لرلو او کنه. ځومره ژر چې ممکن وي، تاسو باید له دغه بستې څخه بله ازموینه وکړئ. د لومړۍ ازموینې څخه کوم شی بیا مه استعمالوئ، او د ازموینې کړنلارې د ګام 1 څخه بیا پیل کړئ.

که ستونزه بیا هم شتون لري، سمدلاسه د دغه ازموینې د کیټ کارول بند کړئ. د ازموینې د نوي کیټونو غوښتنه په دې ادرس وکړئ: **gov.uk/get-coronavirus-test** د NHS د COVID-19 اپ له لارې یا په **119** د مشتري د اړیکې مرکز ته په زنګ وهلو سره. تلیفونونه هره ورځ خلاص وي، د سهار له 7 بجو څخه تر ماخوستن 11 بجو پورې.

## 8. د ازموینې اجرا

که یو شخص د کورونا وایرس (COVID-19) لوړه کچه لري، نو ممکن ازموینه مثبت پایله ورکړي. دا په دې معنی چې دا زیاتره هغه کسان کشف کوي چې اوسمهال په ناروغۍ اخته وي او په سملاسي توګه ځان جلا کولو ته اړتیا لري.

## 9. په خوندي توګه خپله ازموینه تنظیم کړئ

کله چې ستاسو ازموینه بشپړه شي، ټول استعمال شوي مواد په فاضلدانه کې واچوئ او دا د خپلې کورنۍ په عمومي فضله موادو کې کیږدئ.

له ضایع کولو وروسته خپل لاسونه په ښه توګه ومینځئ.

د دې کتابچې معلومات د (29 سپتمبر 2021 پورې) صحیح کړی شوي دي.
د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7
د محصول نوم: د SureScreen SARS-CoV-2 اینټي جین ګړندۍ ازموینې کېسټ (د پزې سواب (طلایي))

## د خپلو ازموینو د پایلو په اړه یو یادښت جوړ کړئ

دا ستاسو د خپلو ریکارډونو لپاره ده. تاسو باید لاهم خپلې پایلې NHS ته راپور کړئ
(د معلوماتو لپاره 15 مه پاڼه وګورئ).
وګورئ: **gov.uk/report-covid19-result**

که تاسو په سکاټلنډ کې ژوند کوئ، نو لاندې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ:
**covidtest.scot**

| چا ازموینه ترسره کړه | نېټه | وخت | د ازموینې پایله |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

# ستاسو په کيټ کې لاندې مواد شامل دي

| شيان | 7-بسته |
|---|---|
| د استعمال لپاره لارښوونه (دا کتابچه) | 1 |
| د ازموينې کيسټ په بنده کڅوړه کې | 7 |
| د مايعې کڅوړې (د استخراج بفر بوتلګي) | 7 |
| د استخراج ټيوبونه | 7 |
| سوابونه | 7 |
| د پلاستيکي فضله موادو بستې | 7 |

د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7

## د نورو معلوماتو لنډيز

| | |
|---|---|
| د خپلې ازموينې اضافي مرسته<br>د ژبې بديلې بڼې او د ويډيو نمونې<br>د ماشوم د چمتو کولو او ازموينې لپاره لارښوونه | gov.uk/covid19-self-test-help |
| د ځان د جلا کولو او درملنې د معلوماتو په اړه لارښوونه | nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/self-isolation-and-treatment/ |
| د COVID-19 په اړه د NHS لارښوونه | nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19 |
| که تاسو د COVID-19 علايم لرئ او ستاسو وضعيت خرابيږي، يا تاسو له اوو ورځو وروسته ښه نه ياست، نو د NHS 111 آنلاين کورونا ويروس خدمت وکاروئ: | 111.nhs.uk<br><br>**يا که تاسو انټرنېټ ته لاس رسی نه لرئ، نو NHS 111 ته زنګ ووهئ** |
| په ماشومانو کې د COVID-19 علايم | nhs.uk/conditions/coronavirus-COVID-19/symptoms/coronavirus-in-children |
| که د کومې آلې څخه زيانمن شئ، دلته راپور ورکړئ | coronavirus-yellowcard.mhra.gov.uk |
| آنلاين پايله راپور کړئ (انګلستان، والز يا شمالي آيرلېنډ): | gov.uk/report-covid19-result |
| آنلاين پايله راپور کړئ (سکاټ لېنډ): | covidtest.scot |
| د اوسني تجويز شوي ازموينې غوښتنه وکړئ | gov.uk/get-coronavirus-test |
| که خراب شوي، مات شوي يا بې درکه شوي<br>د ژبې مرسته (د بريتانيې د اشارې د ژبې پشمول)<br>خپله پايله راپور کړئ (که تاسو انټرنېټ ته لاس رسی نه لرئ) | **119 ته زنګ ووهئ** |

د پيژندګلوی دې کتابچې ته يوازې د SureScreen SARS-CoV-2 اينټي جين ګړندی ازموينې کېسټ (د پزې سواب) (طلايي) ويل کيږي

د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7

## یاددښتونه:

د محصول کوډ: COVID19AGVCGS7

د NHS د ازمويني او تعقيب پروګرام له مخې دا آله يوازې د روغتيا او ټولنيز مراقبت اداري (DHSC) د ليږلو د برخې په توګه ليږدول کيدی شي.

**جوړوونکي:**
SureScreen Diagnostics
1 Prime Parkway, Prime Enterprise Park,
Derby, DE1 3QB, United Kingdom (برېتانيه)

د سواب معلومات:
Zhejiang Gongdong Medical Technology Co., Ltd.
ادرس: No.10 Beiyuan Ave., Huangyan, 318020 Taizhou,
Zhejiang, People's Republic of China (د چين د خلکو جمهوريت)

CE 0123

يا

Jiangsu ChangFeng Medical Industry Co., LTD
ادرس: Touqiao Town, Guangling District,
Yangzhou, 225109 Jiangsu P.R. China (د چين د خلکو جمهوريت)

CE 0197

**علايم**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 30°C / 2°C | په 2 – 30 سېنټي ګرېډه کې يې ږدئ | STERILE EO | د ايتيلين آکسايډ په کارولو سره معقم شوی | جوړوونکي | |
| LOT | لاټ شمېره | | د ختميدو نېټه | IVD | په ويټرو تشخيصي طبي وسيله |
| | د استعمال لپاره لارښووني وګورئ | Σ 7 | مواد مناسب دي د 7 ازموينو لپاره | | بيرته مه کاروئ |
| REF | د کتلاګ شميره | | | | |

محصول مه کاروئ کله چې کڅوړه خرابه شي

د عمومي لارښوونې او اخطارونو لپاره د 'ازموينې د اخيستلو په اړه مشوره' برخه وګورئ

نسخه 5 د تطبيق نېټه 29/09/2021
د استعمال دا لارښوونې د SureScreen SARS-CoV-2 اينټي جين ګړندی ازمويني کېسټ (د پزې سواب) (طلايي)، جوړوونکي سره تړاو لري: د SureScreen Diagnostics او محصول کوډ: COVID19AGVCGS7